
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۱۹مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ نهمه | ۵۷۷یمه ګڼه

## پوهنتون

۴ مخ

### صابر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

موسسې او پوهنځیو ته پراختیا ورکول، د کتابتون غني کول، له بهرنیو او کورنیو پوهنتونونو سره په لوړه کچه د اړیکو ټینګول او د علمي اړیکو هوکړو لاسلیکول د صابر د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.



# د سولې مشورتي لويه جرګه؛

## عبدالله عبدالله: د طالب بنديانو د خوشي کېدو په دربيمه ورځ بين الافغاني خبرې پيلېږي



۳

### د جرګې ځينې پرېکړې چې خندونه جوړولی شي

۲ مخ


### افغانستان؛ د وارداتي برېښنا بندولو ګواښونه

۲ مخ

### د افغانستان په ستراتېژيکو مسايلو کې امريکا چېرته قرار لري؟

۳ مخ

### کرېکټ بورډ: د داخلي کرېکټ د ودې لپاره به ډېر ژر په خوست کې د کرېکټ سيالۍ پيل شي



د افغانستان د کرېکټ بورډ وايي، د داخلي کرېکټ د ودې لپاره به ډېر ژر په خوست ولايت کې د کرېکټ سيالۍ پيل شي. د ياد بورډ وياند فريد هوتک له رسنيو سره په خبرو کې ويلي: «ټاکل شوې ډېر ژر د افغانستان د کرېکټ بورډ له لوري په خوست ولايت کې د کرېکټ لوبې پيل شي. دغه لوبې به د اتو ولايتونو ترمنځ وي او ګرېډ ون سيالۍ دي. د لوبغاړو لپاره دغه لوبې خورا مهمې دي.»

د نوموړي په خبره، دغه سيالۍ د روانې اونۍ د پنجشنبې په ورځ (د اګست پر ۱۳مه) پيلېږي او د اګست مياشتې تر ۲۲مې دوام کوي. د هوتک په وينا، په سياليو کې به د دغو اتو ولايتونو ټيمونه په خپلو کې لوبه او سيالي کوي، چې پايلوبه يا وروستۍ سيالي به يې په کابل کې وشي.

د يادونې ده چې افغانستان د کرېکټ بورډ اداره د لوبغاړو د پياوړتيا په موخه په کور دننه سربېره، په نورو هېوادونو کې هم تمريناتي سياليو برابروي.

### څارونکي بنسټونه: د حکومت په عايداتي ادارو کې فساد اوج ته رسېدلی دی

د افغانستان د سوداګرۍ خونې چارواکي او يو شمېر څارونکي بنسټونه وايي چې په دې وروستيو پنځو کلونو کې د حکومت په عايداتي ادارو لکه، ماليې وزارت، ګمرکونو، ښاروالۍ او نورو دغه ډول ادارو کې فساد اوج ته رسېدلی دی.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو د خونې مرستيال خان جان الکوزی وايي، په دې فساد کې ان لوړپوړي کسان هم لاس لري. د ده په خبره، په عايداتي ادارو لکه، ګمرکاتو او نورو کې زورواکي ډېره شوې ده، پوښتنه نشته او ان ويل کېږي چې ډېر لوړپوړي چارواکي په دې پروسه کې دخيل دي. د سوداګرۍ خونې چارواکي وايي، د تېرو کلونو په پرتله نه يوازې دا چې د فساد په کچه کې کموالی نه دی راغلی، بلکې لا ډېر شوی هم دی. په ورته وخت کې د افغانستان پر شفافيت د څار بنسټ هم وايي چې حکومت د فساد پر وړاندې په مبارزه کې خپلې ژمنې نه دي عملي کړې او د نړيوالې ټولنې د لوايحو او طرزالعملونو په عملي کولو کې هم کمزوری دی.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې پر افغان حکومت د فاسد له کبله کورني او نړيوال فشارونه ډېر شوي دي. که څه هم ولسمشرغني په خپله تېره او اوسنۍ دوره کې د فساد پر وړاندې د جدي مبارزې ژمنه کړې وه، خو نوموړی په خپله ژمنه کې پاتې راغلی او فساد خپل اوج ته رسېدلی دی.

### لويه جرګه د افغان جګړې د پای ته رسېدو لپاره تاريخي فرصت دی



۲ مخ

### قصر سپيدار: به‌زودی اعضای رهبری شورای عالی مصالحهٔ ملی اعلام می شود



پس از در حدود سه ماه از ایجاد شورای عالی مصالحهٔ ملی، عبدالله عبدالله، رئیس این شورا می‌گوید که قرار است به‌زودی اعضای رهبری این شورای اعلام شود.

شورای عالی مصالحهٔ ملی در حدود سه ماه پیش در پی امضای توافق سیاسی میان رئیس‌جمهور و عبدالله عبدالله به‌هدف پیشبرد روند صلح ایجاد شد. از آن زمان تاکنون بارها انتقادهایی از عدم تشکیل این شورا مطرح شده‌اند.

اما، آقای عبدالله که دیروز در لویه‌جرگه مشورتی صلح سخن می‌زد، گفت که قرار بود اعلام اعضای رهبری شورای عالی مصالحه پیش از این انجام شود، اما به‌علت مشغولیت‌های آنان در کار برگزاری لویه‌جرگه به تأخیر افتاد: «شورای عالی مصالحه ملی که اعضایش انشالله متعاقب لویه‌جرگه در اولین فرصت هیئت رهبری‌اش اعلام می‌شود.»

اما، شماری از آگاهان سیاسی و شهروندان کشور رهبران حکومت را به بی پروایی در معرفی اعضای رهبری شورای عالی مصالحه ملی و اعضای کابینه متهم می‌سازند.

محمد عاصم، والی پیشین پروان گفت: «یک مورد نیست که قانون نادیده گرفته می‌شود. نه از طرف افراد عادی مملکت، بلکه از رأس نظام تا قاعده یک نوع بی توجهی و معافیت در برابر قانون و احکام قانون وجود دارد.»

وحیدالله فرزه‌یی، حقوق‌دان نیز در این باره اظهار داشت: «حکومت افغانستان مطابق احکام قانون اساسی تشکیل نشده باشد، پرداختن به هرکار دیگری می‌تواند صدمه بسیار جدی را بر پیکر حکومت داری خوب در افغانستان وارد کند.»

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### د جرګې ځینې پرېکړې چې خنډونه جوړولی شي

د سولې مشورتي لویې جرګې کاري کمېټو پرون خپل رپوټونه وړاندې کړل او ټاکل شوې چې نن د جرګې وروستۍ پرېکړه اعلان شي. د کاري کمېټو په رپوټونو کې تایید شوې وه چې د سولې د خبرو د پیل لپاره دې پاتې څلور سوه بندیان خوشې شي، خو ورسره دا چاره له ځینو شرطونو سره هم غوټه شوې وه. ځینو کمېټو ویلي وو چې بهرني هېوادونه باید تضمین وکړي چې دا کسان به بیا جنګ ته نه ستنیږي او طالبان به د بندیانو له خوشې کولو وروسته اوربند کوي او له افغان حکومت سره به خبرې پیلوي. د ځینو کمېټو په پرېکړو کې دا هم ویل شوي وو چې دوی د جمهوریت او اوسني اساسي قانون دوام غواړي او د تېرو اتلسو کلونو لاسته راوړنې دې هم وساتل شي. داسې ښکاري چې نن به په وروستۍ پرېکړه کې هم د بندیانو خوشې کول تایید شي، خو ځینې شرطونه به هم ورسره یاد شي. د دې تر څنګ د اوسني اساسي قانون ساتنه او د جمهوریت دوام به د ځینو نورو مسایلو تر څنګ د سرو کرښو او د جرګې د غوښتنو په توګه را مخ ته کېږي. اوس پوښتنه دا ده چې د جرګې دا ډول پرېکړې به د سولې پر پروسه او د بین الافغاني خبرو پر پیل او بریا څه اغېز ولري؟

جرګې د بندیانو خوشې کول تایید کړي چې دا یو ښه ګام دی. که څه هم شرطونه شته، خو د ځینو شرطونو عملي کېدل ناممکن دي. دا به ساده وي چې طالبان تضمین وکړي چې خوشې کېدونکي کسان به بېرته د جګړې لیکو ته نه ورستیږي، خو دا چې له دې امله دې مخکې له مخکې اوربند وشي، یا دې طالبان له حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي او یا دې هم کوم بهرنی هېواد د دې چارو تضمین وکړي، دا شرطونه عملي نه ښکارېږي. اوس که حکومت د بندیانو د خوشې کولو لپاره یوازې پلمې ته اړتیا لرله، نو ښایي جګړې ته د دوی د نه ستنېدلو پر تضمین بسنه وشي او دوی خوشې شي، خو که موخه خنډ جوړول وي، نو بیا د جرګې له خوا وړاندې شوي شرطونه چې ځینې یې غیر عملي دي، ښایي جدي ونیول شي او خنډونه جوړ شي.

د جمهوریت دوام، د اوسني اساسي قانون او تېرو اتلسو کلونو د لاسته راوړنو ساتنه، هغه مسایل دي چې د سولې په برخه کې د پرمختګ پر ځای ستونزې جوړوي. اوس د دې وخت نه دی چې سرې کرښې وټاکل شي، بلکې د جوړجاړي، انعطاف او قربانۍ وخت دی. د دې پر ځای چې د جمهوریت پر ساتنې ټینګار وشي، ښه ده، پر دې ټینګار وشي چې د افغانستان نظام د افغانانو په خوښه وټاکل شي چې دا خپله جمهوریت دی. که د افغانستان ډېری خلکو هر نظام انتخاب کړ، همغه دې ومنل شي او د دې لپاره باید ټولپوښتنه وشي. دغه راز پر اوسني اساسي قانون ټینګار بل خنډ دی. اساسي قانون باید بدل شي، ځکه ډېرې ستونزې لري. پکار ده چې د افغانستان د خلکو د نظریاتو پر اساس نوی اساسي قانون جوړ شي، ځکه چې پر اوسني اساسي قانون ټینګار به د سولې پر وړاندې خنډ جوړ کړي. له بله اړخه که طالبانو دا اساسي قانون، جمهوریت او نور منلی، نو بیا یې اتلس کاله ولې جګړې کوله!؟

له همدې امله د جرګې په پرېکړو کې ستونزې شته چې هیله ده په وروستۍ پرېکړه کې دا ستونزې را کمې شي. د دې تر څنګ حکومت هم باید د جرګې له ځینو غوښتنو د سولې په برخه کې د خنډ په توګه استفاده ونه کړي، بلکې د جرګې د پرېکړې پر اساس ژر پاتې څلور سوه بندیان خوشې کړي او د سولې بین الافغاني خبرو ته لاره هواره کړي.

# افغانستان؛

## د وارداتي برېښنا بندولو ګواښونه

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د روان کال اسد میاشتې په پنځمه نېټه د افغانستان برېښنا شرکت په ناڅاپي توګه خبر ورکړ، چې د سهار ۷:۳۰ بجو څخه را وروسته د اوبو د کمښت له امله له تاجکستان څخه د وارداتي برېښنا کچه له ۳۵۰ میګاواټه څخه ٤۰ میګاواټه ته راښکته کېږي. په دې کار سره د پلازمېنې کابل او ځینو نورو سیمو اوسېدونکي د برېښنا د نشتون له سختې ستونزې سره مخ شول.

په تېرو دوو لسیزو کې په لویه کچه تر سره شویو مرستو سربېره لا هم په داخل کې د تولید کچه د نشت برابره ده؟ افغانستان به تر کوم وخت پورې په داخلي برېښنا بسیا شي، او وارداتي برېښنا به ترکوم وخت داخلي اړتیا پوره کړي؟ په یادو موضوعاتو دلته شننه شوې ده.

**وارداتي برېښنا آخر تر کله؟**

په داسې حال کې چې هره میاشت افغانستان د تاجکستان په ګډون، ازبکستان او ایران ته د برېښنا واردولو په بدله کې ۲۵ میلیونه ډالر ورکوي چې په کلني حساب ۳۰۰ میلیون ډالر کېږي؛ څو ورځې وړاندې په ناڅاپي توګه د تاجکستان هېواد له لوري افغانستان ته صادرېدونکې برېښنا لېږد په یاد هېواد کې د اوبو کموالي له امله له ۳۵۰ میګاواټه څخه ٤۰ میګاواټو ته راښکته شوه. د تاجکستان حکومت له دې ګام اخیستو وروسته د برېښنا شرکت خبر ورکړ، چې له ازبکستان څخه به د ٤۰۰ میګاواټو په کچه برېښنا هېواد ته راولېږدوي. په داسې حال کې چې د برېښنا صادروونکو هېوادونو له جملې ازبکستان بیا څو میاشتې وړاندې ګواښ کړی و که د برېښنا مصارف له وړاندې ور نه کړل شي، نو په افغانستان کې به خپله برېښنا بنده کړي. دا کار د دې څرګندویي کولی شي چې افغانستان ته د برېښنا نور صادروونکي هېوادونه خپلو اړتیاوو ته په کتو چې هر وخت وغواړي ورته ګامونه اخیستلی شي او افغانستان چې دا مهال یوازې ۳۰ سلنه وګړي یې برېښنا ته لاسرسی لري، له برېښنا بې برخې کولی شي. تر دې دمه د وارداتي برېښنا لېږد په برخه کې په میلیونونو ډالر مصرف شوي، که چېرته یاد مصارف په داخل کې د برېښنا د تولید لپاره د اوبو بندونو د جوړېدو په برخه کې په اغېزناکه توګه لګېدلي وای، نو لرې نه وه چې اوسمهال به له ۳۰ سلنه زیات وګړي له داخلي برېښنا څخه ګټه اخیستلای.

د بهرنیو مرستو کمېدلو تر څنګ د هېواد کمزوري اقتصادي وضعیت ته په کتو، لرې نه ده چې د برېښنا واردوونکو هېوادونو ته په خپل وخت د پیسو د نه ورکړې په صورت کې د برېښنا لېږد کچه نوره هم ټیټه شي.

له تېرو دوو لسیزو راپدېخوا افغان چارواکو او په ځانګړې توګه د برېښنا شرکت یوازې تشې وعدې کړې دي او د اوبو هغو بندونو جوړولو کې پاتې راغلي چې د برېښنا تولید لپاره ترې باید کار اخیستل شوای وای.

**د برېښنا داخلي بندونه؛ د ستونزې بنسټیز حل**

په داسې حال کې چې افغانستان د ۳۱۸ ګیګاواټه برېښنا تولید ظرفیت لري، دا مهال تقریباً ۸۰ سلنه برېښنا له بهرنیو هېوادونو څخه واردوي او د ۲۵۰۰ میګاواټه په شاوخوا کې برېښنا ته اړتیا لري. یوازې د کابل ولایت برېښنا اړتیا له ۷۵۰ میګاواټو څخه اوړي، په داسې حال کې چې اوسمهال یوازې ٤۵۰ میګاواټه برېښنا ته لاسرسی لري. د برېښنا نشتون نه یوازې داخلي پانګونه؛ بلکې د بهرنۍ پانګونې د راتګ مخه ډبه کړې ده. دا چې د افغانستان ۷۵ سلنه وګړي په کلیوالو سیمو کې اوسیږي، یوازې ۹ سلنه وګړي په یادو سیمو کې برېښنا ته لاسرسی لري، په داسې حال کې چې د هېواد ٦۷ سلنه ناخالص کورني تولیدات له یادو سیمو لاسته راځي.

د داخلي اوبو بندونو جوړېدو چارې د بېلګې په توګه د پکتیا ولایت احمد آباد ولسوالۍ اړوند مچلغو بند چې چارې یې نهه کال وړاندې په ۱۳۹۰ کال کې پیل شوې او تمه وه چې د دریو کلونو په موده کې به ګټې اخیستنې ته چمتو شي، د فساد له امله یې کارونه وځنډېدل. د یاد بند جوړېدو چارې د دویم ځل لپاره په ۱۳۹٦ کال کې یو بل روسي شرکت او د درېیم ځل لپاره دا دې د یاد بند جوړېدو چارې د جمهوري ریاست عملیاتي ادارې ته وسپارل شوې او د امنیت ټینګښت په صورت کې یادې ادارې تمه ښودلې چې په راتلونکو ۱٦ میاشتو کې به یې چارې بشپړې کړي. د یاد بند د جوړېدو چارې د یو منظم پلان درلودو په صورت کې کېدلی شوای کلونه وړاندې تر سره شوې وای، خو لیدل کېږي چې د ۱٫۱ میلیارد افغانیو تر مصرف وروسته لا هم د مچلغو بند چارې یوازې ۷ سلنه تر سره شوې دي.

له دې پرته د ځینو نورو داخلي بندونو جوړېدو چارې هم څو څو ځلې یوازې په نمایشي بڼه پیل شوې؛ خو په پراخه کچه فساد له امله یې د بشپړېدو چارې له خنډ سره مخ کړې دي.

که افغان حکومت په رښتینې توګه غواړي چې د برېښنا ستونزې ته په داخلي توګه په بنسټیزه توګه حللاره پیدا کړي، تر هر څه لومړی دې د وارداتي برېښنا په برخه کې د فساد مخه ونیسي. ځکه ځینې داسې دولتي او خصوصي اداري شته چې له کلونو کلونو راهیسې د برېښنا مصارف نه پرېکوي، د دې لپاره چې برېښنا شرکت د داخلي برېښنا تولید ته پاملرنه زیاته کړي، صادروونکو هېوادونو ته د پیسو د ورکړې په برخه کې ځان مصروفوي او بهرنیو هېوادونو ته د پیسو د ورکړې لپاره افغان حکومت دې ته اړ کېږي، چې له ملي بودیجې هغه پیسې پرې کړي چې د فساد له امله برېښنا شرکت ته نه ورکول کېږي. دا چاره د هېواد کمزوری اقتصادي وضعیت نور هم له خنډونو سره مخ کوي او د داخلي بندونو جوړېدو چارې د کمزوري اقتصادي وضعیت او فساد له امله نورې هم نامعلوم راتلونکې ته ځغېږي او په وارداتي برېښنا تکیه کولو ته لاره هواریږي.

نړیواله ټولنه باید د افغانستان داخلي برېښنا تولید په برخه کې نه یوازې مالي مرستې تر سره کړي، بلکې اړینه ده چې په اغېزناکه توګه د برېښنا تولید په برخه کې د هر اړخیزې څارنې لپاره هم لاس پکار شي. د برېښنا ماسټر پلان چې په ۲۰۰٤ کال کې جوړ شو، بیاکتنې ته اړتیا لري چې ولې تر دې دمه هېواد ته د پراخو مرستو له راتګ سره سره بیا هم د داخلي تولید کچه ډېره کمه ده؟ په دې کې شک نشته چې د داخلي بندونو جوړېدو په برخه کې امنیتي ستونزې شته، مګر افغان حکومت د اوبو بندونو سربېره کولی شوای د لمریزې او بادي برېښنا تولید په برخه کې ښې لاسته راوړنې درلودلې وای، مګر لیدل کېږي چې د کمزورو پالیسیو له امله په یادو برخو کې هم اغېزمن ګامونه نه دي اخیستل شوي.

د دې لپاره چې د داخلي بندونو د نه جوړېدو پر بنسټیزو حللارو غور وشي، زیاتره وخت چارواکي هڅه کوي چې امنیتي ستونزې بهانه وګرځوي او د بندونو جوړېدو په برخه کې امنیت لوی خنډ ګڼي. خو وروستۍ څېړنې د بېلګې په توګه د مچلغو بند جوړېدو په لومړیو څلورو کلونو کې ښیي، چې هیڅ ډول امنیتي ستونزه نه وه، مګر بیا هم د یاد بند چارې په خپل وخت تر سره نه شوې او یوازینی لامل یې پخه څارنه او د فساد و، چې د یاد بند جوړېدل یې تر اوسه وځنډول.

**څه باید وشي؟**

که وکتل شي د افغان متخصصینو د ظرفیت جوړونې په برخه کې په میلیونونو ډالر مصرف شول، خو بیا هم د افغانستان برېښنايي شبکو ډیزاین او طرحو جوړولو په برخه کې د افغان متخصصینو پر ځای بهرنیو ډونرانو ستره ونډه درلوده. د امریکا د اوریګون پوهنتون د ماسټرۍ پروګرام فارغ او د انرژۍ د سکټور متخصص ښاغلي محسن امین په خبره، نړیوالو مالي ادارو د نړیوال بانک په ګډون هیڅکله ونه غوښتل چې په افغانستان کې دننه د برېښنا لوی بندونه جوړ شي.

که په رښتینې توګه وغوښتل شي چې په داخلي کچه د برېښنا تولید کچه زیاته او په وارداتي برېښنا تکیه کمه شي، اړینه ده چې د داخلي اوبو بندونو جوړېدو او ساتنې لپاره د ټول ګټو پروژو ساتنې اداري پرته یوه داسې ځانګړې امنیتي اداره رامنځ ته شي، چې نه یوازې د بندونو امنیت ټینګېدو؛ بلکې د فساد د مخنیوي په برخه کې هم ګوټلي ګامونه پورته کړای شي. مخالف مسلح ځواکونه چې د ټول ګټو پروژو تر سره کېدو په برخه کې ځانګړې سلنه تر لاسه کول غواړي، باید د اوبو بندونو جوړېدو په برخه کې د یاد سهم اخیستو څخه په کلکه ډډه وکړي او د بندونو ساتنې په برخه کې هر اړخیزې مرستې ته چمتووالی وښیي. دا کار کولی شي په داخلي کچه هغه کسان رسوا کړي چې د بندونو جوړېدو په برخه کې فساد کوي او نه غواړي چې افغانستان دې په داخلي برېښنا تکیه وکړي. اړینه ده چې افغان حکومت په یو وخت کې د زیاتو بندونو د چارو له پیل کېدو څخه ډډه وکړي، ځکه په تېرو کلونو کې ولیدل شول چې دې کار یوازې کمپاینې اونمایشي بڼه درلوده او ځینې بندونه چې چارې یې کلونه وړاندې تر سره شوې وې؛ مګر د تېرو لسیزو د ناخوالو له امله زیانمن شوي وو، د یادو بندونو د بیارغونې چارې هم په سمه توګه تر سره نه شوې. په یو وخت کې کمزوري اقتصادي او امنیتي وضعیت ته په کتو دې په هغو کم شمېر بندونو کار ګړندی شي، چې وخت ته په کتو زیات ګټور تمامیږي. دا کار کولی شي د بندونو جوړېدو په برخه کې پاملرنه ځانګړې کړي او کمزوری اقتصادي وضعیت له ننګونو څخه وژغوري. د بندونو جوړېدو په برخه کې باید عام وګړي په ملي روحیه د بندونو ساتنې لپاره وهڅول شي او په اوس وخت کې هغه وګړي چې برېښنا ته لاسرسی لري، د وارډېدونکې برېښنا مصارف باید په خپل وخت ادا کړي، د فساد د مخنیوي لپاره باید افغان حکومت نور اړین ګامونه پورته کړي، څو په بهر کې د افغانستان نوم بدناملو ته نور زیان وا نه وړي. غضنفر ګروپ له نړیوال بانک سره د برېښنا تولید په برخه کې له نړیوال بانک سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړ، چې له مخې به یې په مزارشریف کې د ۸۹ میلیونو ډالرو په کچه د برېښنا تولید په برخه کې پانګونه کوي، افغان حکومت باید خصوصي سکټور نور هم وهڅوي څو په دې برخه کې لا زیاته پانګونه وکړي او د هغوی امنیت په برخه کې دې کوټلي ګامونه واخلي.

## پامپیو: لویه جرګه د افغان جګړې د پای ته رسېدو لپاره تاریخي فرصت دی

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو وایي، د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره یې د افغان سولې بهیر په اړه خبرې کړې دي.

نوموړي په خپله ټویټرپاڼه کې لیکلي چې له خپل پاکستاني سیال سره یې د ټلیفون له لارې د افغان سولې په اړه د دوامداره همکارۍ او په سیمه کې د ثبات د اهمیت په اړه خبرې کړې دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ګټو اهدافو ترلاسه کېدو لپاره د همکارۍ زیاتوالي ته هیله مندي ښودلې ده.

بلخوا د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې قریشي او پامپیو د افغان سولې پروسې د وروستیو پرمختګونو په اړه سلا مشورې کړې دي.



سرچینې زیاته کړې، قریشي پامپیو ته ډاډ ورکړی چې د افغان شخړې د سیاسي هوارې لپاره به خپلو سوله ییزو هڅو ته ادامه ورکوي.

دغه راز نوموړي د ژر تر ژره بین الافغاني مذاکراتو پر پیلېدو هم ټینګار کړی او په ډاګه کړې یې ده چې له مشورتي لویې جرګې سره به دغه کار ته لاره هواره شي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو داسې مهال له شاه محمود قریشي سره د افغان سولې په اړه خبرې کړې چې په کابل کې د ۴۰۰ طالب بندیانو د برخلیک په اړه مشورتي لویه جرګه پیل شوې او دغه جرګه به نن د یوه پرېکړه لیک په صادرولو سره پای ته ورسېږي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د سولې په اړه د مشورتي لویې جرګې له تر سره کېدو هر کلی کړی او هغه یې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره تاریخي فرصت بللی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې د ۴۰۰ طالب بندیانو ازادول به د بین الافغاني خبرو پیلېدو لامل شي.

# د افغانستان په ستراتېژيکو مسايلو کې امريکا چېرته قرار لري؟

لیکنه: روح الله احمدزی

**لومړۍ برخه:**

د نوي سياسي سيستم له جوړېدو او د نړيوالې ټولنې له پراخ شتون او ستراتيژيکو اړيکو څخه د نږدې دوو لسيزو وروسته لا هم په هېواد کې د امنيت ټينګښت او د سولې را وستلو مسئله لومړيتوب لري. پرته له شکه، په داسې يو هېواد کې د سولې رامنځته کول چې له نږدې څلورو لسيزو په جګړه کې ښکيل وي، يوه اسانه معادله نه ده چې په کم وخت کې دې وروستۍ پايله ترلاسه شي. مګر د ورته تمې نشتوالی دا حقيقت هم نه توجيه کوي چې هېواد تر ۱۹ کلونو وروسته لا هم د ناامنۍ په کړکېچ کې ښکېل دی. عمومي وضعيت، په ځانګړې توګه د بيا رغونې پروسه اغيزمنه شوې او په بل عبارت، اوسنی وضعيت د ناامنۍ د خپرېدو او د مخالفينو د فعاليتونو شدت او د جګړې د کچې له امله په بشپړه توګه مړاوی شوی او بلکل درېدلی دی. د تاوتريخوالي دوام او زياتوالی، نه يوازې دا چې په هېواد کې د ننه بې شمېره بحرانونه رامنځته کړي، بلکې د نړيوالې ټولنې د ځينو غړو سياستونه او تګلارې يې هم د دوی هېوادونو د خلکو تر پوښتنې لاندې راوستې دي او تاوتريخوالی يې رامنځته کړی دی. د مثال په ډول د افغانستان او د امريکا متحده ايالتونو د ستراتيژيکو همکاريو د تړون سربيره، په امريکايي ټولنه کې د امريکايي سرتېرو شتون په افغانستان کې جنجالونه او سياسي بحثونه راپورته کړي او د دې شتون د لاسته راوړلو پوښتنې ټولنيز شکل غوره کړی. ولې هره ورځ ترهګري زياتېږي؟ ولې د افغانستان خلک د نړيوالې ټولنې د غړو پر کړنو نيوکه کوي؟

هغه څه چې زموږ خلکو ته مهم ښکاري هغه دا ده چې د امنيت ټينګښت او سولې لپاره واقعي لاره کومه ده؟ ولې دا خونړۍ ښتې پای نه لري؟ که څه هم دا شخړې کمې نه دي؛ ولې ورځ په ورځ خپل ځای او تسلط زياتوي؟ ستونزه چېرته ده؟ ايا په سولې باور او د جګړې څخه کرکه کولو نظر کې کوم شک شتون لري؟ ايا د سولې لاسته راوړنې لپاره ميکانېزم نيمګړی دی؟ او که حقيقت دا دی چې د افغانستان حکومت او نړيواله ټولنه د اوږدمهالو اړيکو، ګټو، نړيوال امنيت ټينګښت او راوستلو تړونونو ته ژمن نه دي.

په ځانګړې توګه امريکا سره د افغانستان ستراتيژيک تړون چې لومړۍ موافقه يې په ۲۰۱۲ ز کال کې لاسليک شوې او وروستی امنيتي او دفاعي همکاريو قرارداد يې د ملي وحدت حکومت د پيل ۲۰۱۴ ميلادي کال کې لاسيلک شوی. د دغه تړون اساسي ټکي د افغانستان سولې، امنيت او ثبات پراختيا؛ د دولتي ادارو پياوړتيا؛ اوږدمهاله اقتصادي او اجتماعي انکشاف او د سيمه ييزو همکاريو هڅول او د هېواد ډيموکراټيک راتلونکي ته ګډ کار دی. په سياسي او امنيتي لحاظ ياد تړون د افغانستان لپاره د ملي وحدت حکومت له پيل سره ستراتيژيک فرصت رامنځته کړ او په لومړيو کې د دې تړون اغيزمن څرکونه هم تر سترګو شول ولې متاسفانه وروسته هر څه بدلون وموند او د حکومت له له خوا دغه مهم فرصت له پامه وغورځول شو، د حکومت په امنيتي او ستراتيژيکو مهمو ادارو کې اهل کار او ستراتيژيکو اړيکو د تامينولو کادرونو نه شتون د دې سبب شوی چې هر څه د سند او توقع خلاف مخته ولاړ شي.

البته د سولې او امنيت لاسته راوړل، سربېره پر دې چې د انسان طبيعت کې يوه فطري او انساني پديده ده او د ټولنيز ژوند اړتيا ده، په ځانګړې توګه په نننۍ نړۍ کې چې ژوند پېچلی دی او د ژوند او پوهې کچه لوړه شوې ده. له بلې خوا، طبيعي او غير طبيعي ننګونې او خنډونه هم اضافه شوي؛ نو هرڅوک بايد غوښتنه وکړي او ټول انسانان بايد په ټول جديت او عزم سره د سولې په لټه کې شي.

د افغانستان خاص او بحراني وضعيت زموږ د خلکو لپاره دا اړتيا دوه برابره کړې ده. هغه ټکي چې بايد هېر نه کړل شي، دا دي چې هيله لرل او تمه کول يو څه دی او د عيني شرايطو سره سم ترلاسه کول يې بل څه دي. دا ډول غوښتنې بايد د اهدافو او عيني شرايطو سره سم په ميکانېزم او د حل لارو چوکاټونو کې تنظيم او پلان شي او که داسې ونه شي، ممکن خورا خطرناکې پايلې ولري.

د افغانستان او جنوبي اسيا لپاره د ولسمشر ټرمپ ستراتېژي يوه ښه بېلګه ده چې ترې يادونه وشي. جمهور رييس ټرمپ په يوه تاريخي اقدام کې د افغانستان او جنوبي اسيا لپاره ستراتيژي اعلان کړه. بې له قيد او شرط او ضرب العجل پرته يې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د پياوړتيا او د تروريستانو د نابودولو په پار مبارزې او دوام ټينګار وکړ. ده زياته کړه: «په بېړه له افغانستان د امريکايي ځواکونو وتل به تشه رامنځ ته کړي چې ترهګر به يې ډکه کړي، ځکه به تر هغه افغانستان کې امريکايي ځواکونه جګړه کوي چې ويې ګټي او تر هغه به له وسله والو طالبانو او نورو ډلو سره جنګ کوي چې مات يې کړي». همدارنګه ولسمشر غني د ټرمپ نوې تګلاره تلپاتې ژمنه وبلله او ويې ويل چې له دغې ستراتېژۍ سره به د افغانستان د امنيتي ادارو وړتياوې لوړې شي او پاکستان يې هم ياد کړ چې امريکا د افغانستان ګاونډي ته ښکاره پيغام ورکړی چې نور ترهګرو ډلو ته پناه ورنه کړي اوس بايد پاکستان د افغانستان د سولې غږ ته لبيک ووايي».

اوس ښايي ټولو افغانانو او د سيمې هېوادونو ته دا يوه لويه پوښتنه اوسي چې د امريکا ښکاره تګلارو سره ولې د افغانستان حالت نامعلوم دي. تر ټولو لويه انديښنه دا ده چې په افغانستان کې د روانو حالاتو څېړلو، څارلو او حل لارو پيدا کولو ارګانونه د نړيوالې ټولنې او په ځانګړې توګه امريکا سره څومره همغږي دي، د افغانستان حکومت د امريکا سره په شوي امنيتي او دفاعي تړون او د ټرمپ جنوبي اسيا ستراتېژۍ د کاميابولو او لاسته راوړلو لپاره کومې ادارې ته د همغږۍ او ګډ کار دنده سپارلې ده؟ له بده مرغه موندنې ښيي چې د افغانستان ارشد امنيتي او دفاعي ارګانونو مسوولينو لا د ټرمپ دغه تګلار لوستې نه ده. ايا دا دې خواشينې وړ نه ده چې د حکومت پر ځای يو توره تروريستي وړه ډله د يو ليک له لارې امريکا ته دا ډاډ ورکولی شي چې د خبرو او ګډ کار کولو په مرسته امريکايان ته په سيمه او افغانستان کې هر ډول ګواښ او تهديد مخنيوي کولی شي او د يو تفاهم له لارې سيمه ييزو مسايلو کې ګډ کار کولو ته چمتو دي، اما دولت چې ۱۹ کاله کېږي له امريکا سره کار کوي د دوی دغو انديښنو ته پلټ فارم نه شي رامنځته کولی.

# د سولې مشورتي لويه جرګه؛

## عبدالله عبدالله: د طالب بنديانو د خوشي کېدو په درېيمه ورځ بين الافغاني خبرې پيلېږي



په کابل کې د سولې مشورتي لويه جرګه روانه ده، خو د دغې جرګې مشر وايي، همدا چې د طالبانو بنديان خوشي شي، درې ورځې وروسته به په قطر کې بين الافغاني خبرې پيلېږي. ولسمشر غني ورمه ورځ د سولې په اړه مشورتي لويې جرګې ته وينا وکړه او ده هم وويل چې د طالبانو بنديان که خوشي شي، نو ژر تر ژره بين الافغاني خبرې پيلېږي. بلخوا د سولې مشورتي جرګې ډېری غړي او اکثريت کمېټې په دې اند دي چې بايد د طالبانو پاتې څلور سوه بنديان هم خوشي شي او بين الافغاني خبرې دې پيل شي.

وروسته له هغې چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه په دوحه کې لاسليک شوه، يو شرط پکې دا و چې د بين الافغاني خبرو تر پيل مخکې بايد د طالبانو پنځه زره بنديان خوشي شي. افغان حکومت د دې ډلې تر پنځو زرو پورې بنديان خوشي کړې دي، خو طالبان وايي چې حکومت نږدې څلور سوه هغه بنديان نه دي خوشي کړي چې نومونه يې په لېست کې ياد شوي دي. حکومت بيا وايي، په دې لېست کې داسې کسان شامل دي چې په جنايي جرمونو کې ښکېل دي او حق العبد ورباندې دی.

د دې مسئلې تر کړکېچ وروسته ولسمشر غني پرېکړه وکړه چې مشورتي لويه جرګه راوبولي او ولس به پرېکړه کوي چې دغه بنديان خوشي کړي کنه. سره له دې چې د دې جرګې پر جوړېدو او مالي لګښتونو سختې نيوکې روانې دي، خو جرګه روانه ده او نن يې وروستۍ ورځ ده چې د جرګې غړي به وروستۍ پرېکړه هم وکړي. د جرګې غړي وايي چې افغان حکومت او طالبان دې ژر تر ژره بين الافغاني خبرې پيل کړي او نړيواله ټولنه بايد د سولې هوکړې د عملي کېدو ضمانت وکړي. دوی ټينګار کوي چې بايد لاس ته راوړنې وساتل شي او د لا پياوړي افغانستان لپاره د سولې پروسه مخ ته يوړل شي.

بلخوا د دې جرګې مشر ډاکټر عبدالله عبدالله پرون په يوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وويل، که د طالبانو پاتې څلور سوه بنديان خوشي کېږي، نو دغه ډله به درې ورځې وروسته له افغان حکومت سره د خبرو لومړی پړاو پيلوي. د ده په وينا، د خبرو لومړی پړاو په قطر کې پيلېږي او د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی به له طالبانو سره مخامخ خبرې کوي. نوموړي زياته کړه، که څه هم د سولې مشورتي لويې جرګې يو شمېر غړو د طالب زندانيانو له خلاصون سره مخالفت درلود، خو په ټوله کې د کاري کمېټو پرېکړه دا وه چې ياد زندانيان بايد خوشې شي، څو د جګړې د دوام لپاره کومه بله پلمه پاتې نه شي. عبدالله څرګنده کړې چې د جرګې ګډونوالو د سولې راتلونکي په اړه هم خپلې انديښنې او وړانديزونه له دوی سره شريک کړي او په وينا يې، په مخامخ خبرو کې به د افغانانو ټولو انديښنو ته په پام له مقابل لوري سره مخ ته لاړ شي.

بلخوا د جرګې غړي وايي چې د طالبانو د زندانيانو د خوشي کولو پلويان دي، خو دغه ډله دې هم ژر تر ژره په هېواد کې روانه پردې خونړۍ جګړه پای ته ورسوي. د ملي مصالحې له عالي شورا څخه خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي، د جرګې ګډونوال غواړي چې حکومت دې ۴۰۰ طالب زندانيان خوشي کړي، څو په هېواد کې د جګړې دوام ته بله هېڅ پلمه پاتې نه شي، دواړه لوري دې باعزته سولې ته د رسېدو لپاره نرمښت وښيي، د طالبانو له خوشې کېدو سره دې سراسري اوربند ټينګ او دواړه لوري دې ورته ژمن اوسي، بين الافغاني مذاکرات دې ژر تر ژره پيل شي، د سولې خبرې دې د افغانانو په مشرۍ په افغانستان کې ترسره شي.

له دې سره به د سولې مشورتي لويه جرګه نن هم دوام کوي، سره له دې چې طالبانو دغه جرګه غير قانوني بللې ده او د بشري حقونو خپلواک کمېسيون يې بيا پرېکړه د معافيت فرهنګ د پياوړتيا په مانا بولي، خو دغه جرګه به نن خپله وروستۍ پرېکړه اعلانوي او ولسمشر به تر هغه وروسته د طالب بنديانو په اړه پرېکړه کوي.

# د کرونا د مرګونې څپې دوام؛

## په نړۍ کې د کرونا ويروس له کبله د مړو شمېر نږدې ۷۳۰ زرو کسانو ته رسېدلی دی

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس د مثبتو پېښو شمېر نږدې ۲۰ ميليونو ته رسېدلی دی. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې ۷۲۹ زره ۴۸۴ کسان مړه شوي او له ۱۲ ميليونو زيات يې ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس د کرونا تر ټولو زياتې مثبتې پېښې په امريکا کې ثبت شوې دي. په دغه هېواد کې د کرونا مثبتو پېښو شمېر له ۵.۱۴ ميليونو اوښتی دی. دغه راز د کرونا ويروس له کبله تر دې دمه ۱۶۵ زره او ۷۰ امريکايان مړه شوي دي.

له امريکا وروسته برازيل د درې ميليونه ۱۳ زره او ۳۶۹ مثبتو پېښو په درلودو سره دويم، هند د دوه ميليونه او ۱۵۲ زره او ۲۰ پېښو له اړخه درېيم، روسيه د ۸۸۲ زره او ۳۴۷ مثبتو پېښو له کبله څلورم او جنوبي افريقا د ۵۵۳ زره او ۱۸۸ مثبتو پېښو په درلودو سره پنځم د نړۍ هغه هېواد دی چې د ياد ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

په ورته وخت کې د امريکا متحده ايالتونو د ساري ناروغيو جګپوړې کارپوه انتوني فوچي وايي، نړۍ به هېڅکله پر دې ونه توانېږي چې کروناويروس له منځه يوسي. خو دغه جګپوړي امريکايي صحي کارپوه وايي، کووېډ- ۱۹ ويروس بايد تر راتلونکي کال پورې تر کنټرول لاندې راشي او په احتياط سره د يو موثر واکسين د جوړېدو د چانس په اړه هم هيله مندي څرګندوي.

د امريکا د ساري او مکروبي ناروغيو د ملي انستيتيوت مشر ډاکټر فوچي د له رويټرز خبري سره په ځانګړې مرکه کې ويلي، هغه علت چې کېدای شي ويروس په بشپړ ډول له منځه ولاړ نه شي، د ويروس د انتقال لوړ خاصيت دی، خو فوچي ويلي، د يو غوره واکسين په درلودلو او د صحي لارښونو باندې په عملي کولو سره کېدای شي دا حالت کابو شي.

فوچي وړاندوينه کړې چې نړۍ به تر راتلونکي کال وروسته ويروس تر کنټرول لاندې راولي، خو څرګندوي چې تر هغه وخته پورې د يو موثر واکسين جوړېدو ته هيله مند دی.


بلخوا نيويارک ټايمز راپور ورکړی چې نږدې ۴۰۰ جګپوړو صحي کارپوهانو د امريکا د خوړو او درملو له ادارې «اف ډي اې» څخه غوښتي، مخکې له دې چې د کووېډ- ۱۹ واکسين خلکو ته وړاندې شي، د موثريت او خونديتوب په اړه يې بشپړ غور وکړي.

## د کتاب خبرې

# د پوویشتمې پېړۍ تجارت

لیکوال: رابرټ کیوساکي
ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**
**ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!**
**نولسم څپرکی**




**له ځان سره رښتینی اوسه**

شخصي تجارت جوړول اسانه کار نه دی. له ځانه باید و پوښتئ:«د دې تجارت لپاره چې څه اړین دي، ایا زه هغه لرم؟ ایا دې ته چمتو یم چې له هوسا اوسېدو تېر شم؟ ایا دا منلای شم چې بل څوک مې رهبري کړي یا زه رهبري زده کړم؟ ایا زما په وجود کې شتمن کس شته چې را ښکاره یې کړم؟» که مو ځواب «هو» وي، نو د خپلې تجارتي شبکې د جوړولو په لټه کې شئ.

جان: زه به یو څه پرې زیات کړم. دا باید درته معلومه وي چې چېرته یاست او په ژوند کې څه کول غواړئ. د هر څه تر سرته رسولو وړاندې یو معلوم لیډلوری درلودل اړین دي. بیا مو خپلې هیلې ځان ته روښانه کړئ. دا ځان ته واضح کړئ چې څه شي ته به اړتیا وي. خپل وخت، پیسې، مهارتونه او سرچینې مو په سم ډول وکاروئ. دا خبرې ځان ته ښې واضح کړئ چې د تجارت د بریالي کېدو لپاره باید کوم کارونه وکړئ. دا ټول کارونه مو د وخت په دایره کې دننه ترسره کړئ.

د «Why We Want You to Be Rich» په نوم کتاب ما او ډونالډ ټرمپ په دواړو لیکلی. ډونالډ لیکي:((شبکه یي بازارموندنه د تشبث روحیې ته اړتیا لري. یانې تمرکز او ټینګار. زه هغو خلکو ته چې پر خپلو ځانونو باور نه لري، د بازارموندنې د شبکې مشوره نه ورکوم.)) ډونالډ بیخي سم وایي.

**سالم برخورد ته اړتیا ده**

زما په فکر متشبث کېدل یوه روانه پروسه ده. په کومه پروسه کې چې زه تر اوسه لګیا یم، باور لرم چې تر پایه به د تشبث په زده کړه اخته یم. زه له تجارت سره لېونۍ مینه لرم او د تجارتي ستونزو حلول مې خوښېږي. دا د ژوند هغه پروسه ده چې زه یې غواړم. که څه هم کله کله دا پروسه ډېره سخته وي؛ خو په سختۍ ارزي.

زما د کار جاري ساتلو یو لامل فکر دی. هغه فکر چې زه یې هر ځل په تاریکیو کې ځلولی یم. ان په تر ټولو سختو حالاتو کې یې هم مرسته راسره کړې. زموږ د دفتر پر ټلیفون د چینایي کلچو یوه ټوټه کاغذ نښتی و، پرې لیکلي وو.«د تسلیمېدو لپاره هر وخت، وخت شته، نو بیا ولې اوس تسلیمېږې؟»

څو ځله داسې ټلیفونونه راته شوي چې د تسلیمېدو او کار پرېښودو سبب مې ګرځېدل؛ خو چې ټلیفون به مې قطع کړ، هغې جملې ته به مې وکتل چې پر ټلیفون نښتې وه، او له ځان سره به مې وویل:((هر څومره چې د تسلیمېدو لیواله یم، بیا هم نن نه تسلیمېږم، نن مې کار پای ته رسوم. سبا ته تسلیمېږم او هرڅه پرېږدم.))

زما شتمن پلار به ویل:((که شتمنېدل اسانه وای، نو هر یو به شتمن و. په همدې خاطر به چې کله له ما څخه خلکو زما د شتمنېدو اصلي لامل وپوښت، داسې ځواب به مې ورکړ:[ما نه غوښتل چې څوک دې لارښوونه راته وکړي چې څه وکړه. زه په خپله ازادۍ پسې لېونی وم. زه د دندې د مصئونیت او ساتنې په کیسه کې نه وم. ما مالي ازادي غوښته او دا هغه څه دي چې شبکه یي بازارموندنه یې در کولای شي.]))

که تاسو دا غوره ګڼئ چې د دفتر مشر مو درته ووایي:«څومره باید وګټې، څه وخت باید کار ته راشې او څه وخت بېرته ولاړ شې، بیا نو د شبکه یي بازارموندنې تجارت جوړول ستا کار نه دی.»

**رښتینې ودې ته اړتیا ده**

ښایي د شبکه یي بازارموندنې تجارت یو لوی او پراخ تجارت واوسي. که څه هم دا خبره حتمي نه ده. تر ډېره په تاسو پورې اړه لري. شبکه یي بازارموندنه د هغو خلکو لپاره یوه ښه وسیله ده چې غواړي B کونج یا لوی تجارت ته ننوزي. په E کونج یانې تنخوا لرونکي کار او S کونج یانې ازاد کار کې مو ګټه تر تاسو پورې محدوده ده؛ خو په شبکه یي بازارموندنه کې ګټه د شبکې په لوی‌والي پورې تړلې ده. دا په دې مانا ده، که یو ځل لویه شبکه رامنځته کړئ، نو په لږ وخت کې به خورا ډېرې پیسې ترلاسه کړئ. یوازې د بازارموندنې له یوې ساده شبکې سره په یو ځای کېدو ګټه نشئ کولای. شبکه باید لویه وي.

جان: له تخنیکي اړخه لوی تجارت هغه تجارت ته ویل کېږي چې ۵۰۰ یا تر دې زیات کارکوونکي ولري. که تاسو د ۵۰۰ یا تر دې زیاتو خلکو شبکه جوړه کړئ، نو دا اصلاً یو لوی تجارت شو. د شبکه یي بازارموندنې جوړښت داسې طرحه شوی چې په اسانۍ ۵۰۰ کسانو ته پراخېدای شي. دا یوه ساده خبره ده چې د یوه کس د بازارموندنې شبکه دې زرګونو یا سلګونه زره کارکوونکي ولري.

دې تجارت ته نوي راغلي کسان یوه تېروتنه کوي. کومه ګټه چې ترلاسه کوي، دمفتو پیسو ګومان پرې کوي او له لومړۍ ورځې پیسې جیب ته اچوي.

که تاسو ۵، ۱۰، ۵۰، ۱۰۰ یا ۲۰۰ کسان هم په خپله شبکه کې ولرئ، بیا به هم ډېر احتیاط کوئ. ستاسو تجارت تر اوسه د جوړېدو په حال کې دی. تر اوسه لویه شبکه نه ده رامنځته شوې.

**دوام لري...**

# صابر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




صابر د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د افغانستان په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته په کابل ولایت کې په خپله دایمي ودانۍ کې د دوو پوهنځیو (سیاسي علومو او اقتصاد) په درلودلو سره د لوړو زده کړو په برخه کې فعالیت پیل کړی دی. د صابر د لوړو زده کړو موسسې مسوول ښاغلی مسعود صابر وایي، چې اوس هم هماغه دوه پوهنځي لري. دی وایي، سیاسي علومو پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (نړیوالې اړیکې او سیاسي فکرونه) لري. دغه راز اقتصاد پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (اداره او تجارت او تجارتي اقتصاد) لري.

په صابر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال د پنځو سوو په شاوخوا کې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې دېرش سلنه یې ښځینه او پاتې اویا سلنه یې نارینه محصلین دي. دا چې د صابر د لوړو زده کړو موسسې د فعالیت دومره موده نه کېږي، نو تر اوسه پورې د ماسټرۍ کوم پروګرام نه لري، خو اداره یې غواړي چې په راتلونکې کې د ماسټرۍ پروګرام پیلولو په اړه فکر وکړي. ښاغلی مسعود صابر وایي، چې د پخوا په پرتله د نویو محصلینو په جذب کې یو څه کموالی راغلی دی، خو بیا هم دوی په کلني ډول له ۱۵۰ نیولې تر ۲۰۰ پورې نوي محصلین جذبوي.

دا چې صابر د لوړو زده کړو موسسه د کابل ولایت په یوه داسې سیمه کې فعالیت کوي، چې د دې سیمې خلک له اقتصادي اړخه کمزوري دي، نو د دې موسسې اداري په بېلابېلو کټه‌ګوریو کې د محصلینو لپاره تخفیفونه په پام کې نیولي دي. د صابر د لوړو زده کړو موسسې مسوول وایي، دوی په کابل کې له بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو څخه ور معرفي شویو محصلینو ته په وړیا ډول زده کړې ورکوي. ښاغلی صابر وایي چې همدا تېر کال له ولسمشرۍ ماڼۍ څخه ور معرفي شوي د شهیدانو او معلولینو شل تنه ورثه‌وو ته یې په وړیا ډول په صابر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې د زده کړو زمینه برابره کړه. د دې تر څنګ له احزابو، ټولنو او نورو خیریه بنسټونو څخه دوی ته ور معرفي شوي کسان په وړیا ډول مني او د زده کړو زمینه یې ورته برابره کړې ده.

د صابر د لوړو زده کړو موسسې مسوول مسعود صابر وایي، چې لوړو زده کړو وزارت خصوصي پوهنتونونو ته د ورځې په دریو بېلابېلو وختونو کې د تدریس اجازه ورکړې ده، نو دوی هم د ورځې په دریو وختونو کې خپل محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي چې د سهار له اتو تر یوولسو بجو د ماسپښین له یوې تر څلورو بجو او د مازدیګر له پنځو بیا د شپې تر اتو بجو پورې وختونه دي. دی وایي، محصلین یې کولای شي د زده کړو تر څنګ د ورځې په اوږدو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې دنده هم تر سره کړي او په تشو وختونو کې لوړې زده کړې وکړي.

په صابر د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۵۰ تنه پر کارپوه، مسلکي او تجربه لرونکو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي. د لوړو زده کړو د دې موسسې مشر وایي، دوی په هر پوهنځي کې څلور تنه دایمي استادان لري چې پوره وخت په پوهنتون کې حاضر وي او د ورځې تر پایه درسي ساعتونه لري. دی وایي چې ډېری استادان یې قرادادي دي چې په هر سمیسټر کې له دوی سره همکاري لري. د ښاغلي مسعود صابر په خبره، د لوړو زده کړو له قوانینو او مقرراتو سره سم یې استادان تر دوکتورا او ماسټرۍ پورې لوړې زده کړې لري. دی وایي چې د استادانو په ډله کې یې لس تنه ښځینه استادانې دي چې اته تنه یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او دوه نورې یې د دوکتورا اخیستو لپاره بهر ته تللې دي.

د صابر د لوړو زده کړو موسسې مسوول مسعود صابر وایي، چې ډېر غني کتابتون نه لري، خو بیا یې هم په دې برخه کې خپله هڅه کړې ده. دی وایي، د فعالو دوو پوهنځیو اړوند یې څلور زره کتابونه په خپل کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي، چې محصلین او استادان یې کولای شي له دې کتابتون څخه ګټه واخلي او مطالعه پکې وکړي. ښاغلی صابر وایي چې کتابتون یې نه یوازې د خپلو محصلینو لپاره دی، بلکې له موسسې بېرون هغه څوک چې غواړي مطالعه وکړي، د صابر د لوړو زده کړو موسسې دروازه یې پر مخ خلاصه دی. د دې تر څنګ د صابر د لوړو زده کړو موسسه هغو کسانو ته هم امانت کتابونه ورکوي، چې غواړي مطالعه وکړي او یا هم په کومه برخه کې څېړنه کوي. نوموړی وایي چې غواړي کتابتون یې ورځ تر بلې غني او ګڼ نور کتابونه هم پکې ځای پر ځای کړي.

صابر د لوړو زده کړو موسسه په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره اکاډمیکې اړیکې لري. ښاغلی صابر وایي چې تازه د صابر د لوړو زده کړو موسسې موسس د امریکا کالیفرنیا ایالت تللی او غواړي چې د کالیفرنیا له سټنفورډ پوهنتون سره د علمي اړیکو پر هوکړه خبرې وکړي او په خپله موسسه کې د سټنفورډ پوهنتون له تجربو ګټه واخلي.

مسعود صابر وایي چې د محصلینو لپاره یې ټول هغه امکانات برابر کړي چې چې یو پوهنتون یې باید ولري. د علمي سمینارونو دایرول، ورکشاپونه جوړول او وړیا انټرنېټ هغه څه دي چې د خپلو محصلینو په واک کې یې ورکړي دي. دی وایي چې اداره او استادان یې هڅه کوي چې ټولنې ته په کار پوه، مسلکي او ژمن کسان د خدمت په موخه وړاندې کړي، څو هم خپل ځان، کورنۍ، هېواد او ټولنې ته ګټور ثابت شي. د لوړو زده کړو له دې موسسې څخه تر اوسه پورې کومه دوره محصلین فارغ شوي نه دي، خو ښاغلی صابر وایي چې په همدې ورځو کې به خپله لومړۍ دوره محصلین فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

د صابر د لوړو زده کړو موسسې مسوول وایي، دوی د خپلې موسسې د پرمختګ لپاره درې کلن او پنځه کلن پلانونه لري. موسسې او پوهنځیو ته پراختیا ورکول، د کتابتون غني کول، له بهرنیو او کورنیو پوهنتونونو سره په لوړه کچه د اړیکو ټینګول او د علمي اړیکو هوکړو لاسلیکول د صابر د لوړو زده کړو موسسې راتلونکې پلانونه دي چې اوس هم ور باندې کار روان دی.

ښاغلی صابر د افغان ټولنې یوازینۍ ستونزه اوسمهال د امنیت نشتون یادوي. دی له افغان حکومت غواړي چې د خلکو امنیت ته ځانګړې پاملرنه وکړي، څو خلک وکولای شي په امنه فضا کې زده کړې، سوداګري او ژوند وکړي. دی له لوړو زده کړو وزارت کومه ځانګړې غوښتنه نه لري او د دې وزارت له کارونو او پروګرامونو خوښ دی.

خو د خصوصي پوهنتونونو ډېری مسوولین بیا له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې باید د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ توپیر ته د پای ټکی کېږدي او د خصوصي پوهنتونونو د په ښو درېدو لپاره هم باید ګام پورته کړي. د دې تر څنګ دغه خصوصي پوهنتونونه له مالیې وزارت هم سر ټکوي چې له دوی څخه په ډېره لوړه کچه مالیه اخلي، چې تر ډېره یې د دوی د پرمختګ مخه نیولې ده. دوی له افغان حکومت په ځانګړې توګه له مالیې وزارت څخه غواړي چې له خصوصي پوهنتونونو څخه په لوړه کچه مالیې اخیستو باندې له سره غور وکړي، څو دغه پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي او وکولای شي ټولنې ته مسلکي کسان د خدمت په موخه وړاندې کړي.

خصوصي پوهنتونونه د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او ډېری هغو افغان ځوانانو ته یې د زده کړو زمینه برابره کړې ده، چې نه شي کولای دولتي پوهنتونونو ته لار پیدا کړي او یا هم غواړي د کار تر څنګ زده کړې هم وکړي. خصوصي پوهنتونونه په نړۍ کې ډېر ګټور ثابت شوي دي، ان دا چې نن سبا د نړۍ ډېر پرمختللي او معتبر پوهنتونونه همدا خصوصي پوهنتونونه دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۰ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ٤٥٥ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# چطور بعد از ۴۰ سالگی هم پوست جوان و شادابی داشته باشیم؟

امین همتی

پیرشدن یا پابه‌سن‌گذاشتن احساسات مختلفی را در ما به وجود می‌آورد. علائم و نشانه‌های آن هم ماجراهایی دارد. بعضی کم‌کم و تدریجی ظاهر می‌شوند و برای کشف برخی از آنها هم دقت و توجه لازم است. با ظاهرشدن اولین علائم بالارفتن سن در دهه سوم و چهارم زندگی، استفاده از درمان‌های موضعی، اولین ترکیب دفاعی است که برای رفتن به مصاف چین و چروک های صورت می‌چینیم؛ اما زمانی که دیگر کرم‌ها و لایه‌بردارهای شیمیایی جواب نمی‌دهند، چه باید کرد؟ در این مقاله، راه‌حل‌هایی برای این مواقع معرفی شده است.

باید بدانید که زمان شروع فرایند پیری وابسته به نژاد، ژنتیک، میزان قرارداشتن در معرض نور خورشید و سبک زندگی افراد است. کارهایی که برای بدن و پوست انجام می‌دهید (یا نمی‌دهید)، به‌طور مستقیم روی فرایند پیری‌تان اثرگذارند. جرمی برائر (Jeremy Brauer)، استادیار دانشگاه نیویارک، معتقد است که محسوس‌ترین تغییرات پوستی برای شروع روند پیری به شکل‌های زیر دیده می‌شوند:

کاهش خاصیت ارتجاعی پوست؛
تیره‌ترشدن رنگ‌دانه‌های پوستی؛
تغییر اندازه منافذ پوستی؛
برجسته‌ترشدن خطوط نازک روی پوست؛
کاهش حجم عضلات و چربی صورت.

اگر دوست دارید که از پوست‌تان در مقابل پیری محافظت کنید، ادامه این متن را از دست ندهید.

**برای جلوگیری از پیری در دهه ۴۰ عمر چه باید کرد؟**

دیوید لورتچر (David Lortscher)، متخصص پوست می‌گوید: «در دهه ۳۰ و ۴۰ زندگی، مردم علائم پیری را در خود احساس می‌کنند. چرخه زندگی طبیعی پوست شروع به کُندشدن می‌کند؛ یعنی چروک‌ها ظاهر می‌شوند، بی‌رنگ‌شدن بخش‌هایی از پوست نمود پیدا می‌کند و شل‌شدگی آن و کاهش تولید کلاژن رخ می‌دهد.» تغییرات هورمونی بدن هم باعث بروز آکنه در بزرگ‌سالی می‌شود و خاطره جوش ها و آکنه‌های روزهای نوجوانی را تداعی می‌کند.

اگر قبل از شروع دهه ۴۰ زندگی‌تان از محصولات ضد پیری پوست استفاده نمی‌کرده‌اید، حالا دیگر وقتش رسیده است. دکتر لورتچر برای مراجعان خود، ویتامین C و رتینوئید (retinoids) تجویز می‌کند. سال‌ها تحقیق و مطالعات بالینی، بر کاربردی‌بودن این دو ماده، در کاهش علائم پیری پوست، مهر تأیید زده‌اند.

اثرگذاری مثبت رتینوئیدها با آزمایش‌های بالینی متعدد ثابت شده است. این مواد کلاژن‌سازی را تحریک می‌کنند و مانع به‌وجودآمدن چروک‌ها می‌شوند. اگر هم چروکی روی پوست ایجاد شده باشد، آن را رفع می‌کنند. رتینوئیدها حتی آکنه‌های پوستی ناشی از تغییرات هورمونی را هم از بین می‌برند. همان آکنه‌هایی که انگار بدن یادش رفته که از روزهای نوجوانی فاصله گرفته است و هنوز تولیدشان می‌کند.

**نکته مهم**

البته در مصرف رتینوئید باید به نکته‌ای مهم توجه کرد: این ماده به نور حساس است. پس درصورت استفاده، باید از کرم های ضد آفتاب با اس‌پی‌اف (SPF) بالا استفاده کنید. SPF کرم باید دست‌کم ۵۰ باشد و قابلیت مراقبت از پوست در مقابل همه اشعه‌های خورشید را داشته باشد.

اگر از مراقبت‌ها و حساسیت پوستی در زمان مصرف رتینوئید خوشتان نمی‌آید، مصرف ویتامین C به‌طور موضعی جایگزین خوبی خواهد بود. این ویتامین به تولید کلاژن کمک می‌کند و ضمن جنگیدن با چروک‌ها، تخریب پوستی‌ای را درمان می‌کند که ناشی از قرارگرفتن در معرض اشعه فرابنفش خورشید است. ویتامین C حاوی آنتی اکسیدان است و می‌تواند با لکه‌های رنگی پوست (hyperpigmentation) بجنگد و جای زخم یا لک‌های ناشی از قرارگرفتن پوست در معرض نور خورشید را از بین ببرد.

**برای جلوگیری از پیری در دهه ۵۰ عمر چه باید کرد؟**

فرایند پیری در دهه ۵۰ عمر هم مانند دهه ۴۰ ادامه پیدا می‌کند. البته در زنان، یائسگی باعث تشدید علائم می‌شود. تغییر سطح استروژن پوست را خشک‌تر و کم‌شدن کلاژن هم پوست اطراف چشم‌ها و فک را شل می‌کند. قرارداشتن زیر نور آفتاب در طی سالیان دراز، هم لکه‌های پوستی به وجود می‌آورد و هم بافت پوست را زبرتر می‌کند.

استفاده از مرطوب کننده پوست و درمان‌های موضعی که گفته شد، در کنار روش‌هایی مانند درمارولینگ (dermarolling) که میکرونیدلینگ (microneedling) هم نامیده می‌شود، به رفع زبری و خشکی پوست در سنین بالاتر کمک می‌کند. میکرونیدلینگ ابزاری مانند ادوات شکنجه قرون‌وسطا دارد اما روشی مناسب برای افزایش کلاژن پوست در منزل است. در میکرونیدلینگ، پوست با سوزن خاصی سوراخ می‌شود؛ پس رعایت بهداشت بسیار ضروری است.

**قبل از خرید کرم مرطوب‌کننده این نکات را حتما بدانید:**

در این روش، جراحت کوچکی در پوست ایجاد می‌شود که می‌تواند به تولید کلاژن و افزایش خاصیت ارتجاعی پوست کمک کند. از دیگر نتایج مفید آن، بهبود وضعیت زخم‌ها و چروک‌ها، کاهش لکه‌های رنگی و جوان‌سازی پوست است.

اندازه سوزن‌ها در اثرگذاری میکرونیدلینگ نقش دارد. اگر اندازه سوزن بزرگ‌تر باشد و عمیق‌تر در پوست فرو برود، وضعیت پوست بهتر خواهد شد. این روش برای کاهش چروک‌ها و خطوط نازک روی پوست و بازسازی سطحی کاربرد دارد. با انجام این روش می‌توان پوستی جوان و شاداب داشت.

روش دیگر برای جلوگیری از پیری در دهه ۵۰ عمر، استفاده از لیزر فراکسل (Fraxel) است. این روش نوعی لیزردرمانی است که برای درمان جای زخم آکنه و لکه‌های رنگی پوست به کار می‌رود. فراکسل برای کاهش چین و چروک صورت و باطراوت شدن و جوان‌سازی پوست، بسیار مؤثر است.

**برای جلوگیری از پیری در دهه ٦۰ عمر چه باید کرد؟**

با ورود به دهه ٦۰ از عمرمان، شاهد تغییرات جدی‌تری در بافت پوست خواهیم بود. استفاده از رتینوئید و ویتامین C همچنان می‌تواند با خطوط ظریف روی پوست بجنگد و لکه‌های رنگی پوست را از بین ببرد. استفاده از این موارد، بافت پوست را بهبود می‌بخشد و از شل‌شدن آن جلوگیری می‌کند؛ اما به‌دلیل کاهش حجم صورت و فروریختن آن، اقدامات دیگری هم لازم است.

اگر به‌دنبال مراقبت‌هایی بیشتر از کرم‌ها و مواد موضعی هستید که در طول روز استفاده می‌شوند، خبر خوبی برایتان داریم: روش‌های مراقبتی پوست، که چندان تهاجمی و همراه با جراحی‌های سخت و طولانی‌ای نیستند و در آنها از تیغ جراحی استفاده نمی‌شود، مثلا: تزریق بافت در زیر پوستی که شل شده، از روش‌های ترمیم پوست است.

حجم‌دهنده‌هایی مانند اسکالپترا (Sculptra) یا ولوما (Voluma) و فیلرها مانند ریدیس (Radiesse)، رستیلان (Restylane) و یووه‌درم (Juvederm) می‌توانند حجم ازدست‌رفته صورت را تاحدی ترمیم و پوست را کشیده‌تر و محکم‌تر کنند. اگر خط اخمتان در ناحیه پیشانی، طوری شده است که انگار همیشه در صبح شنبه به سر می‌برید، استفاده از زئومین (Xeomin) یا ریدیس پیشنهاد می‌شود.

زئومین برای درمان خط اخم مناسب است و ریدیس فیلری است که چروک‌های شدید و متوسط پوست را درمان می‌کند. پزشکان متخصص روش‌هایی مانند آلتراپی (Ultherapy) را هم پیشنهاد می‌کنند. در این روش، از فناوری فراصوت برای احیای تولید کلاژن استفاده می‌شود و بدون نیاز به جراحی، پوست را به‌طور طبیعی کشیده و محکم می کند.

**مراقبت‌های پوستی دهه ٦۰ سالگی:**

استفاده از حجم‌دهنده‌ها مانند اسکالپترا (Sculptra) یا ولوما (Voluma)؛ استفاده از فیلرها مانند ریدیس (Radiesse)، یووه‌درم (Juvederm) یا رستیلان (Restylane)؛ آلتراپی یا درمان با فناوری فراصوت.

**آیا می‌دانید در هر سنی برای مقابله با پیری پوست چه کنید؟**

فناوری‌های جدید باعث شده‌اند که برای مراقبت از پوست، درمان یا مقابله با علائم پیری، دیگر نیازی به جراحی‌های سخت یا استفاده از مواد موضعی همراه با عوارض پوستی نباشد؛ اما مهم‌ترین و مؤثرترین روش مراقبت از پوست، کماکان جلوگیری از تخریبی است که خورشید در پوست ایجاد می‌کند.

شاید بیشتر ما در استفاده از کلاه آفتابی یا کرم ضدآفتاب کوتاهی می کنیم، اما این مسئله برای همه ما گران تمام می‌شود. ماجرا زمانی هولناک می‌شود که بدانیم طول می کشد تا اثرات منفی نور خورشید بروز پیدا کنند؛ یعنی فاصله میان زمانی که در معرض پرتوهای آن قرار می گیریم تا زمان نمایان‌شدن نشانه‌های تخریب زیاد است. همان موقعی که ما در معرض نور خورشید هستیم، متوجه اثرات نامطلوبش نخواهیم شد.

پس بهتر است که از زیر آفتاب خوابیدن و برنزه‌کردن پوست خودداری کنید و همیشه از کلاه آفتابی، ضدآفتاب مناسب و عینک دودی استفاده کنید. در این صورت، تا سال‌های طولانی، پوستی جوان، زیبا و شاداب خواهید داشت.

# په هېواد کې فعال مخابراتي شرکتونه انټرنېټ د پېر بيې په پرتله ۲۳ برابره په لوړه بيه پلوري



د مخابراتي شرکتونو لپاره د انټرنېټ بيه له نهو، ٦.۵ افغانيو ته را کمه شوې، خو دغه شرکتونه اوس هم انټرنېټ د هند په پرتله نږدې ۳۴ برابره او د پاکستان په پرتله ۷ برابره په لوړه بيه پلوري.

د مخابراتو وزارت مطبوعاتي مشاور حامد پويارسنيو ته ويلي، دغه وزارت انټرنېټ د پاکستان او قراقزستان له هېوادونو په عمده ډول اخلي او بېرته يې په مخابراتي شرکتونو په عمده توګه پلوري.

د هغه په وينا، دغه وزارت پخوا مخابراتي شرکتونو ته يو جي بي انټرنېټ په نهه افغانۍ ورکاوه، خو د روان کال له وري مياشتې راهيسې يو جي بي په ٦.۵ افغانۍ ورکوي.

پويا ويلي چې مخابراتي شرکتونو له دوی سره ژمنه کړې وه چې د انټرنېټ بيې به را کموي، خو لا يې هم د بيو د راټيټېدو په اړه په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی او يوازې سلام او افغان بيسم شرکتونو خپلې بيې يوه څه را کمې کړې دي.

هغه زياته کړې: «موږ د مخابراتي شرکتونو له خدمتونو راضي نه یو، دا يو ډول ظلم دی او بايد ارزانه او په ښه کيفيت خلکو ته خدمات وړاندې کړي.»

د ده په خبره، که مخابراتي شرکتونه د انټرنېټ بيې راټيټې کړي، دغه وزارت چمتو دی چې د انټرنېټ بيې نورې هم راټيټې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال په افغانستان کې بېلابېلې مخابراتي شبکې فعاليت کوي او هره مخابراتي شبکه په بېلابېلو بيو خپلو پېرېدونکو ته خدمات وړاندې کوي.

د انټرنېټي معلوماتو له مخې، اوسمهال اتصالات شبکه د يوې مياشتې لپاره يو جي بي انټرنېټ په ۲۵۰ افغانۍ، سلام شبکه د يوې مياشتې لپاره يو جي بي په ۹۲ افغانۍ، روشن شبکه يو جي بي جمع د فېسبوک لپاره دوه سوه اېم بي وړيا په ۲۵۰ افغانۍ، اېم ټي اېن شبکه د يوې مياشتې لپاره ۸۷۰ ام بي په ۲۹۹ افغانيو او ۲.۱ جي بي په ۳۹۹ افغانيو او افغان بېسيم شبکه بيا يو جي بي انټرنېټ د يوې اونۍ لپاره په ۱۲۵ افغانيو ورکوي.

د يادونې ده چې يادې شبکې له يو جي بي د ډېر انټرنېټ ځينې نور بنډلونه هم لري چې بيې يې د يو جي بي انټرنېټ په پرتله ټيټې دي.

د يوې مياشتې لپاره، روشن لس جي بي په ۱۰۹۹ افغانۍ، اېم ټي اېن شپږ عشاريه اته جي بي په ۷۲۵ افغانۍ، اتصالات لس جي بي په ۹۹۹ افغانۍ، افغان بيسيم اته عشاريه څلور جي بي په ۸۰۰ افغانۍ پلوري، چې د سيمې هېوادونو په پرتله دا بيې ډېرې لوړې دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

یکشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۱۹مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ نهمه | ۵۷۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۶ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۲۲ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۸ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:۴۳ | ماښام ۰٦:٤۸ | ماخوستن ۰۸:۲۱

## نړۍ



د کرونا د مرګوني څپې دوام؛

## په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر نږدې ۷۳۰ زرو کسانو ته رسېدلی دی

۳

### سازمان عفو بین‌الملل:

## صلح در افغانستان نباید به نادیده گرفتن جنایات جنگی منجر شود



در پی برگزاری لویه‌جرگه دربارهٔ رهایی ۴۰۰ زندانی طالبان که به‌جرم‌های حقوق‌بشری در زندان استند، سازمان عفو بین‌الملل و سازمان حقوق‌بشر می‌گویند که صلح در افغانستان نباید به نادیده گرفتن جنایات جنگی منجر شود.


این نهادهای حقوق‌بشری، تأکید کرده‌اند که تلاش‌ها برای رسیدن به یک صلح پایدار، باید بربنیاد قانون، عدالت و پاسخ‌گویی باشد.

عبدالله عبدالله، رئیس لویه‌جرگه دیروز گفت که تمامی کمیته‌های این جرگه با رهایی این زندانیان به‌نحوی موافق اند. او گفت اگر این زندانیان آزاد شود، دور نخست گفت‌وگوهای صلح در دوحه برگزار خواهد شد – احتمالاً سه روز پس از از رهایی زندانیان.

در یک اعلامیهٔ سازمان عفو بین‌الملل آمده‌است: «ما از دولت افغانستان می‌خواهیم که به حقوق قربانیانی که در طول روند صلح بی‌صدا مانده‌اند، احترام بگذارد. تمام تلاش‌ها برای رسیدن به صلح پایدار باید براساس قانون، عدالت و پاسخ‌گویی باشند. مردم افغانستان صلح را بیش از هر کس آرزو می‌کنند، اما هزینهٔ صلح نباید نادیده گرفتن جنایات جنگی و جنایات علیه بشریت باشد.» در عین حال لعل گل لعل، رئیس سازمان حقوق بشر افغانستان نیز افزود: «ما همیشه و همیشه بر حکومت صدا کردیم و برای قربانی‌ها دادخواهی کردیم اما صدای ما شنیده نشده‌است.»

در همین حال، هیئت گفت‌وگوکنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان با طالبان و شماری از اعضای جرگهٔ مشورتی صلح برای آغاز مذاکرات میان افغانان، خواستار انعطاف‌پذیری طالبان در روند صلح استند.

## راپورونه: د بیروت له چاودنې د نږدې یوې اونۍ پر تېرېدو سربېره، لسګونه کسان لا هم تري تم دي



د راپورونو له مخې، د لبنان په پلازمېنه بیروت کې له زورورې چاودنې د نږدې یوې اونۍ په تېرېدو سربېره، چارواکي وايي چې لا هم د لسګونو کسانو د مرګ او ژوند هېڅ خرک نه مالومېږي. د لبنان د عامې روغتیا وزارت ویلي چې په دې چاودنه کې ۱۵۴ کسان وژل شوي، له پنځو زرو ډېر ټپیان شوي او لسګونه نور لا هم تري تم دي. د دغه د عامې روغتیا وزارت زیاته کړې چې په وژل شویو کې ۲۵ داسې کسان هم شته چې هویت یې تر اوسه نه دی په ډاګه شوی. د عامې روغتیا وزارت دغه راز ویلي، د پنځو زرو ټپي شویو کسانو له ډلې د ۱۲۰ کسانو روغتیایي وضعیت د اندېښنې وړ دی. په ورته وخت کې د دغه هېواد ولسمشر مېشل عون ویلي چې امکان لري دا چاودنه د بهر نه د توغندي، بم یا بلې کومې لارې شوې وي. ولسمشر مېشل عون له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې مسوولینو په دې تړاو څېړنې پیل کړي چې معلومه کړي چاودنه د بم په واسطه شوې او یا کوم شی د بهر نه وار شوی. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحده ایالتونو هم له چاودنې وروسته ویلي وو چې ښايي چاودنه د برید له کبله شوې وي. په عربي رسنیو کې شک په اسرائیل کېږي، ځکه چې په دې وروستیو کې یې د ایران او د حزب الله د شیعه وسله والې ډلې سره جنجالونه زیات شوي، خو اسرائیل په دې چاودنه کې لاس لرل رد کړي دي.


## هندي رسنۍ: په هند کې د الوتکې د پېښې د قربانیانو شمېر ۲۰ کسانو ته رسېدلی دی

د هند د هوايي شرکت یوه الوتکه چې د عربي متحده اماراتو د دوبۍ ښار نه هند ته روانه وه، د هند په یو هوايي ډګر کې تر ناستې وروسته دوې ټوټې شوې ده. تر پېښې وروسته د یادې پېښې د قربانیانو شمېر ۱٦ تنه ښودل شوی و، خو انډیا ټوډې راپور ورکړی چې د یادې پېښې د قربانیانو شمېر ۲۰ ته لوړ شوی دی. په الوتکه کې د پیلوټانو، عملې او مسافرو په ګډون ټول ۱۹۱ کسان سپاره وو. د هند د جنوبي کیرالا ایالتي چارواکو ویلي چې په دې پېښه کې د الوتکې د عملې په ګډون تر ۱۲۳ ډېر کسان ټپیان شوي هم دي. چارواکو ویلي چې د یو شمېر ټپیانو روغتیايي وضعیت خراب دی او ښايي د مړو شمېرو نور هم ډېر شي. د هوايي ډګر مسوولینو ویلي چې د الوتکې مخکنۍ برخه تقریباً شل متري لرې مونډل شوې او اکثریت وژل شوي هماغه مسافر وو چې په مخکنۍ برخه کې ناست وو.

د هند د ملکي هوايي چلن اداري مسوولینو هم ویلي چې الوتکه له رن وې نه بلې خوا ته تللې او دوې ټوټې شوې ده. دوی دغه راز ویلي چې د الوتکې د لوېدو پر وخت په سیمه کې باران ورېدو چې د ژغورنې کار یې یو څه سخت کړی و.


## ژوند

## د سپما ګټې!



د سپما ګټه یوازې تاسو ته نه، بلکې کورنۍ، ټولنې او ان هېواد ته رسېږي. کولی شی سپما شوې پیسې چاته قرض الحسنه ورکړی او اړتیا یې پوره کړی، پانګونه پرې وکړی او ډېر نور کسان در سره په دنده کړی، په دې کار سره به مو هم ځان ته ګټه رسولې وي او هم به مو د خلکو زړونه لاس ته راوړي وي. سپما یوه له هغو موضوعاتو ده چې خبرې کول یې په اړه اسانه دي، خو تر سره کول یې بیا ډېر سخت دي. موږ ټول په دې پوهېږو چې سپما کول ډېر ښه او عاقلانه کار دی، خو ټول یې بیا په تر سره کولو کې ستونزې لرو او نن په سبا یې کوو. که فکر وکړو سپما له لګښته ډېره ګټه لري، خو یو څه سر خوږی هم لري. هغه کسان چې په مهارت سره خپلې پیسې سپما کوي، په دې ښه پوهېږي چې څه ډول خپلې پیسې مصرف کړي، خو په دې هم باید ځان پوه کړي چې څه ډول کولی شي خپل عواید زیات کړي.

## اپل بېرته د نړۍ تر ټولو ارزښتمنه کمپنۍ شوه



اپل کمپنۍ چې سهام یې په ازاد بازار کې پلورل کېږي، بېرته د نړۍ تر ټولو ارزښتمنه کمپنۍ شوه او د سعودي عربستان د نفتو کمپنۍ ارامکو ته یې بېرته ماتې ورکړه. د سي این بي سي د راپور پر بنسټ، د اپل کمپنۍ د سهامو بیه د جمعې په ورځ ۱۰،۴۷٪ لوړه شوه او په دې ډول د دې کمپنۍ ارزښت ۱،۸۴ ټریلیونه ډالرو ته ورسېد. دا په داسې حال کې ده چې د ارامکو ارزښت ۱،۷٦ ټریلیونه ډالره دی. پر دې سربېره چې د کوویډ-۱۹ نړیوالې وبا د نړۍ پر اقتصاد ډېر ناوړه اغېز وکړ، خو د اپل کمپنۍ په مختلفو برخو او هېوادونو کې بیا هم ۱۴٪ ګټه کړې ده. په دې اړه د اپل کمپنۍ اجرایوي مشر ټېم کوک ویلي: «په دغه ډول ناڅرګند چاپېریال کې اپل بیا هم تاریخي او د پام وړ ګټه وکړه. دا ښیي چې زموږ تولیدات زموږ د کاروونکو په ژوند کې مهم رول لوبوي.» د یادونې ده چې اپل کمپنۍ له اوږدې مودې څخه د پیاوړې رقابت له امله خپل ارزښت له لاسه ورکړی و، خو بیا هم د نړۍ تر ټولو ارزښتمنه کمپنۍ وه.



ماستر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank